لیکوال : بروس ریچاردسن
ژباړه : رحمت آریا
جولای ۲۰۱۰

# د ترهگرۍ پر ضد ناڅرگنده جگړه : ډله ییزه سزا، دلایلو او تناسب ته شا کول ، له قانوني اداني بهر جگړه، وژنه او ترور

د دوهمي نړیوالي جگړې وروستۍ گړۍ وې چې ماتي خوړلي جاپان د سولي غوښتنه وکړه. د دې غوښتني پر وړاندې امریکائـي دلیل او ځواب د جاپان د هیروشیما او ناگاساکي پر ښارونو باندې اتومي بمب وَرَونه وه چې دواړه ښارونه یې د ځمکي له مخې وریبل. په سلگونو زرو ملکي وگړو د سترگو په رپ کي خپل ژوند له لاسه ورکړ ، له هغوی وروسته د زهري وړانگو د اغیزو له امله په لسگونو زره نور انسانان د کړیدلي مرگ په ډنډ کې په کوربَـلو ولمبیدل او مړه شول. همدلته د تأریخ په همدغه ټکي کې ول چې اتومي وسلو د جگړې په ډگر کې د لومړي ځل لپاره د وسلو په ډلو کې تناسب او دلیل دواړه تر پښو لاندې کړل. همدې ته ورته اوسنۍ امریکا هم ، د ترهگرۍ پر وړاندې خپلې جگړې کې ، په کټ مټ ډول دلیل او تناسب ته شا کړې ده.

نن ورځ بې پیلوټکه روباتیک[1] الوتکې چې د [ زي] (XE) [2] د قرار دادیانو او د CIA د کار کوونکو له پلوه سمبال او په کار وړل کیږي پرې بې تر دې کچې شلیدلي چې نه د کانگرس زور وربانډې رسیږي او نه د پلټنو، دوی خپلې چارې د امریکا په سویل لویدیز کې له یوه خوندې گوښي گوټ څخه پرمخ بیایي ، دوی په خپله مني چې تر اوسه یې څه د باندې یو زر تنه بې گناه و گړي وژلي دي. د امریکا د سمندري ځواکونو وژونکې الوتکې کلي په کنډوالو او لوټو بدلوي ، دا الوتکې د انسان وژنې هغه خونړي ماشینونه دي چې په نړۍ کې سارۍ نه لري. لا تر اوسه زموږ پرمختللې ټکنالوژي لگیا ده او د جگړې پرمختللي ماشینونه جوړوي او هېڅکله دلیل او تناسب په پام کې نه نیسي. موږ د ملگرو ملتونو د منشور د ۵۱ مادې او د ژنوا د کنوانسیون د ځاني دفاع د مادې تر نامه لاندې پر افغانستان او عراق برید وکړ. د درغلنو تورونو، له چلوټو ډکو شننو او د خپلو درواغو پربنسټ مو داسې کړه لاره غوره کړه چې هم مو خپل ولس او هم مو د دواړو هیوادونو ولسونو ته سزا ورکړه. د امریکایي ولس د ملاتړ د ترلاسه کولو لپاره مو پر خپل ځان د ټولنیزو بنسټونو په نامه ډلې او نرم دریزې رسنۍ را ټولې کړې ، د رسنیو د سرمشریزې ډلې مشري د هغو پخوانیو پوځیانو لاس ته ورغله چې د کاري قرارداد ریښه یې د پوځي وسلو د جوړولو د صنعت په ډنډ کې ډوبې دي. خپل ولس ته مو د خپلو درواغو د توجیه لپاره د سپتامبر د پیښې د ۱۹ تنو تورنو گډونوالو په تړاو درواغ وویل له دغو ۱۹ تنو څخه یو یې هم له هغو هیوادوو څخه نه ول چې هره ورځ یې نومونه په خپلو خبرو کې په کاره واړه ډول ژویو. یو ویشتمې پیړۍ د خپل پیل له هماغو لومړیو شیبو یو ځل بیا د دلیل او تناسب د خونړۍ دښتې پر وچ ډاک گام کښیښود.

**ډله ییزه سزا او سیاسي وژنې** : د **ژنوا د کنوانسیون** ۳۳ ماده په ډیرو څرگندو ټکیو وایي چې : " ډله ییزې وژنې د انسانیت پر وړاندې جرم دي " هر ملت چې نن د آیساف په نامه د پوځي حضور تر سیوري لاندې د دغې کړۍ پر گردې څنډې باندې سپور دی د پورتنۍ مادې تر نښې لاندې راځي او د ژنوا کنوانسیون یې تر پښو لاندې کړی دی. د آیساف پر کړۍ ټول ټال ۳۸ هیوادونو راټول دي چې هر یو یې نړیوال بشري قانون تر پښو لاندې کړی دی.

له پوځي برلاسۍ برخمن هیوادونه د قانون د تفسیر د تشعب له امله خپل کړه وړه او سرغړونې ددغه روښانه او ستر قانون د څانگو د کاړه تعبیر تر پانو لاندې پټوي ؛ داسې څوک نه شته چې له دوی څخه د دغه ستر قانون د اغیزمندۍ د کچې په اړه پوښتنه وکړي ، دغه هیوادونه په بوخو غوړونو دې ته قابو ناست دي چې د قانون کوم اړخونه د دوې له

---

[1] Robotic Drone

په کمپیوټري سیستم سمبالې بې پیلوټه الوتکې

[2] (XE) **Xe Services LLC**

دا یوه شخصي پوځي قراردادي کمپنۍ ده چې په ۱۹۹۷ زکال کې د **Black water** په نامه په امریکا کې پرانیستل شوه. بنسټ یې ایریک پرینس او ال کلارک کښیښود. د کمپنۍ بنسټ اوس د امریکا په شمالي کارولاینا کې دی. کمپنۍ هر کال څلوېښت زره پوځیان روزي چې زیاتره یې امریکایان دي. ددې کمپنۍ په هرو ۹۸۷ قرار دادیانو کې ۷۴۴ تنه یې امریکایان دي. دا کمپنۍ د امریکا د دفاع د وزارت په اډانه کې تر ټولو ستره کمپنۍ ده چې درې څانگې لري. کمپنۍ د امنیتي چارو ترڅنگ نورې بېلابېلې دندې هم لري. د کمپنۍ ۹۰ په سلو کې بودیجه دولت ورکوي. [ ژ ]

سياسي غوښتنو سره چيرې او کله ډډه لګوي. د امريکا د متحده ايالاتو د عملياتو د تياتر په ډيريو برخو کې ډيرې بيلګې شته چې د خپل فطرت له مخې بې په لوی لاس او غيرقانوني ډول وژني تر لاس لاندې نيولې دي ؛ د دغه فطرت د ډيرو بيلګو يوه بيلګه همدا اوس مورږ په عراق ، افغانستان، پاکستان ، سومالېې او يمن کې ګورو کې چې د قانون له کړۍ دباندې بې په خپلو پرمختللو وسلو او ولسونو ته ډله په ييزه سزا ورکولو بې په دغو هيوادونو کې د ناتار اورونه بل کړي دي. [ د ملي قانونپوهانو د ټولنې[3] ] مشر [ مارجري کوهن[4] ] په دې وروستيو کې ويلي چې : " سياسي يا په نښه شوې وژنې چې کله ناکله غير قانوني اعدامونه هم بل کيږي يا د دولت له لارې يا ددولت په رضايت او خوښې تر سره کيږي ، دا ډول وژنې په هېڅ ډول قانوني او قضايي احکامو کې ځای نه لري." د ملګرو ملتونو د ۱۹۹۸ زکال د ځانګړې خبريال يوګزارش وايي : " د قانون له کړۍ دباندې اعدامونه تر هېڅ ډول حالاتو لاندې د زغم وړ نه دي او نه د توجيه وړ بلل شوي دي **... ان د جګړ پر مهال.** په لوی لاس وژنې د **ژنوا له کنوانسيون** څخه څرګنده سرغړونه ده ، دا ډول وژنې د امريکا د جنګي جناياتو تر قانون لاندې هم د جنګي جنايت په نامه د سزا وړ دي."

**د برلاسۍ جګړه** : دلته مورږ دا خبره را وړاندې کوو چې سي آی اې په برالا توګه منلي چې د [ وژنو د ټاکلي نومليک پر بنسټ ] بې يو شمير يوګړي کسان په نښه کړې دي ، هغوی بې وژلې ، يا بې ترور کړي دي ؛ آيا د قانون له کړۍ د باندې دغه ډول وژنې د بشري حقونو له قانون څخه څرګند سرغړونه نه ده چې له يو چا څخه دې د " ژوند کولو حق" واخيستل شي؟ دلته مورږ د امريکا د داسې يوه ولسمشر په اړه دا خبره هم کوو چې د هغه په باور دی د دې حق لري چې پر داسې يوه خپلواک هيواد دې بريد وکړي او خپل دې سرتيري دې ور ولګيږي چې نه بې پر امريکا بريد کړی او نه بې امريکا ته کوم ګواښ رامنځته کړی دی ، او يا سي آی اې يوازې د تورونو او شکونو پر بنسټ کولای شي ځانته دا حق ورکړي چې يو څوک دې په نښه کړي او له هغه څخه دې د ژوند کولو حق واخلي. آيا دا د برلاسۍ يوه جګړه نه ده؟

د بې شميرو ګزارشونو په اړوند د قانون يا د قانوني خونديتوب د څارنې تشه ډيره څرګنده ده ، يو شمير ګزارشونه په روښانه وايي : په زباد رسيدلي چې بې شميره کسان تش په نامه په ترهګرۍ يا د سياسي دښمنۍ په تور تورن دي او امريکايي ايجنټانو د هغوی پر سر پريمانه ګټورې جايزې د نقدو پيسو په ډول اينبي دي. ټولو ته په ځانګړې توګه د رسنيو د بازار معتادينو او دلالانو ته څرګنده ده چې نه افغانستان او نه عراق د سپتامبر د يولسمې په پيښه کې هېڅ ډول ونډه نه ده لوبولې. له دې امله پر دغو دوه وو خپلواکو هيوادونو بريدونه چې د قانون د حکمونو له کړۍ د باندې دي په خپله ختېه او تومنه کې د برلاسۍ جګړه ده ، دا هغه جګړه ده چې د هر بشري قانون تر حکمونو لاندې تر ټولو جدي جنګي جنايت دی.

**روباتيک[5] وژونکي** : په دې وروستيو کې سناتور [ کارل ليون[6] ] د امريکا پر دولت غږ کړی چې د پاکستان د [ فاټا FATA[7] ] په توکميزو سيموکې داسې ډلې شته " چې په افغانستان کې د امريکا پوځي مأموريت ته کلک ګواښ رامنځته کوي" له دې امله پر دغو سيمو دې د بې پيلوټه الوتکو د بريدونو لړۍ لا نوره هم پراخه شي". پوښتنه دا چې د " افغان مأموريت" مانا په څرګندو ټکيو کې څه ده ؟ سناتور ليون ټينګار وکړ چې پاکستاني دولت د بې پيلوټو الوتکو بريدونو ته د منلو سر ښورولای خو د امريکا له هلو ځلو څخه بې د ځان په ګټه، ګټه پورته کړې او له امريکا سره په جګړې کې د ملګرتوب تر سيوري لاندې بې په سيمه کې خپل هغه مخالفان د بې پيلوټه الوتکو په بريدونو کې وژلي دي چې د پاکستان له دولت سره مخالفت لري ، خو په بل اړخ کې بې سناتور د بې شميرو بې ګناه وګړو له وژنو څخه په پټو سترګو تيريږي ... په دغو بريدونو کې هغه تناسب په پام کې نه نيول کيږي چې د يوه مخالف په کړس کې څومره بې ګناه ملکي وګړي خپل ژوند له لاسه ورکوي.

**غيرقانوني جګړ ته قانوني جامې ور اغوستل** : د امريکا د متحده ايالاتو يو دروند او منلی سناتور د کوم حق تر نامه لاندې پر داسې يوه خپلواک هيواد د بريد ټټر وهي چې هېڅکله بې د امريکا پر متحده ايالاتو باندې بريد نه دی کړی ؟ د کوم نړيوال يا ملي قانون او قضاوت او د کوم قانون د حکمونو په اډانه کې نومورې دغې غير قانوني جګړې ته قانوني پرتوګ وراغوندي؟ د امريکا دغه سناتورچې د سنا د وسلوالو خدماتو د پياوړې کميټې غړيتوب لري د کوم قانون يا قضايي حکم تر سيوري لاندې له داسې يو شي څخه دفاع کوي چې له هغه څخه د هېڅ قانون په اډانه کې دفاع نه شي کيدای؟ هغه څوک چې پر منطق ولاړ وي او منطقي پوهه ولري هغه ته " افغان مأموريت " داسې يو مأموريت دی

---

[3] National Lawyers Guild
[4] Marjorie Cohn
[5] Robotic Killers

په تخنيکي او کمپيوتري سيستمونو سمبال وسلې [ ژ ]

[6] Senator Carl Levin
[7] Federally Administered Tribal Areas (FATA) of Pakistan


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له مورږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

چې له اخلاقي او قانوني اړخه د دفاع وړ نه دی.

" ډله ییزه سزا" د نړیوال قانون، د نړیوالو پروتوکولونو او کنوانسیونونو په احکامو کې په څرګنده ویل شوې خو نن دغه حکمونه په خپله د هغو هیوادونو له پلوه تر پښو لاندې کیږي چې ددغو قوانینو په پای کې یې د ژمنو هیوادونو په توګه لاسلیکونه کړي دي ، همدغه ژمن او له پوځي اړخه برلاسي هیوادونه دي چې د نورو هیوادونو پر وړاندې یو بُعدي یا څو بُعدي پوځي یا د دښمنۍ ګامونه پورته کوي ، د دښمنۍ یا د همدغو څو بُعدي ګامونو په پایله کې دي چې په یوه متحارب هیواد کې به جرم یوه لږکی یا اقلیت یا به کومې ځانګړې مذهبي او توکمیزې ډلې رامنځته کړی وي مګر" ډله ییز تاوان" یې د دغه هیواد ټولو وګړو ته رسیږي.

د سپتامبر په یولسمې نېټې د سوداګرۍ پر نړیوال مرکز باندې د برید تابیا، روزنه او مالي سمبالونه د هغو کسانو په لاس تر سره شوه چې په جرمني ، هسپانیې او د امریکا په متحده ایالاتو کې یې استوګنه درلوده ، له دې امله د آیساف د ځواکونو هر غړی هیواد چې همدا اوس په افغانستان کې پوځي عملیات پر مخ بیایي هر یو یې د نړیوال قانون هغه ماده تر پښو لاندې کوي چې حکم یې د " ډله ییزې سزا" تر نامه لاندې په څرګندو ټکیو کې ویل شوی دی.

د سپتامبر د یولسمې پېښې په هاغه لومړیو کې اسامه بن لادن د پیښې د نوښتګر په توګه و پیژندل شو، خو نن موږ په ډیره څرګنده ټوګه پوهیږو چې نوموړی د طالبانو د دولت تر څار لاندې د شړونې په نوم په داسې یوه ګوښې ګوټ کې په تړلو لاس او پښو را ایسار وو چې نه یې شوای کولای د افغانستان له خاورې څخه د بل هیڅ هیواد پر وړاندې غچ اخیستونکی ګام اوچت کړي ، ځکه د طالبانو دولت ډیر ښه پوهیده چې که داسې وشي نو د هغوی ددولت پر وړاندې به تر ټولو سخت غبرګون را څرګند شي او په دې به تورن شي چې د دوی په کوربه تابه کې د دوی سعودي میلمه لادن د بل هیواد پر وړاندې د دښمنۍ ګام اوچت کړی دی، طالبان له دغه حساسیته له بل هر چا ډیر زیات خبر ول. له دولت سره همغاړو ، پاروونکو او مرستندیو رسنیو و کولای شول د امریکا دولت ته د اسامه بن لادن انځور د داسې یوه دښمن په جامه کې ور وپیژني چې تر ټولو نورو دښمنانو یې اورپکې او له ګواښه ډک میرځمن دی. د ۲۰۰۱ زکال د اکتوبر په مېاشت کې د افغانستان پر وړاندې د ولسمشر جیورج ډبیلو بوش اداری د خپل غچ اخیستونکي ګام د پورته کولو د توجیه لپاره داسې وویل :" د " ځاني دفاع " تر نامه لاندې د ژنیوا د کنوانسیون د ۵۱ مادې پر بنسټ ، افغانستان د یوه مرستندوی دولت په توګه اسامه بن لادن ته غیر قانوني پناه ، پټنځای او لوژیستیکي آسانتیاوې برابرې کړي چې د پیښې د رامنځته کولو سمبالنه او تابیا یې تر لاس لاندې ونیوله. " په دغې توجیه کې دا هم ویل شوي چې " د افغانستان له خاورې څخه ګواښ شته " د بوش د اداری په دغو څرګندونو کې دا یې بنسټه تورونه له افغانستان سره هیڅ تړاو نه لري چې ګڼې د دغه هیواد دولت ترهګرۍ ته مرستندوی هیواد دی او نه هیڅ افغان د ویل شویو بریدکوونکو په ډله کې ګډون درلود.

حقیقت دا دی چې د نړیوالو کنوانسیونونو بربنسټ افغان ولس او افغان دولت دواړه بې ګناه دي هغوی د نړیوالې سوداګرۍ پر مرکز باندې برید کې هیڅ ډول ونډه او لاس نه درلود ، د همدغو کنوانسیونونو پر بنسټ هغوی بې ګناه دي، هغوی ته هر ډول تاوان رسول، پر هغوی بندیز لګول یا هغوی ته " ډله ییزه سزا" په دې دلیل غیر قانوني دي چې هغوی د سپتامبر د یولسمې پیښې کې ګډون نه وو کړی، ددغه هیواد هیڅ هیوادوال د ۱۹ تنو بریدکوونکو په ډله کې نه وو نو ولې د دغه هیواد میلیونونو وګړو ته دې څو بُعدي سزا ورکړل شي حال دا چې د پیښې ګډونوال له نورو هیوادونو څخه ول. موږ هیله لرو چې په راتلونکي کې داسې یوه نړیواله محکمه دې رامنځته شي چې د عدالت په نامه نوې ډاډمنه پریکړه و کړای شي او له امریکا او د آیساف د ځواکونو له غړو هیوادونو څخه د افغانستان په استازیتوب د رامنځته شویو ورانیو او وژنو په بدل کې د جګړې د تاوان د پریکړې لارې چارې ولټوي.

**د جنګي جنایاتو د سیاسي لوبو ډډ** : پر نړیوال قانون د ملنډو په لړ کې د بوش له دکتورینو څخه را څڅیدلې او په میراث راپاتې تر ټولو کبرجنه دوه مخي ، تش په نامه " د ترهګرۍ پر وړاندې جګړه " ، د [ اوریلایي [8] ] لید لوري پر وړاندې یو پیغور دی. ستاسو به په یاد وي چې د امریکا متحده ایالاتو په خپله د دوهمې نړیوالې جګړې په پای کې هغو نازي ساینسپوهانو ته د عدلي خوندیتوب ، پناه او د کار د ورکړې ډاډمنه ژمنه ورکړه چې د جرمني د توغندیو په جوړولو او څارګرو چارو کې بوخت ول. هېښنده دا ده چې په دې وروستیو کې امریکا په ترهګرو کړو وړو کې ښکیل [ ډاکټر اوریلانډو بوش[9] ] ته د پناه غیږه پرانیستله نوموړی د یوې کیوبایي الوتکې په بمبي چاودنه کې ښکیل وو او ۷۳ تنه یې ووژل. اوریلانډو بوش ته ددې لپاره وربن تندی وښودل شو چې د کاسترو ضد او کمونیست ضد دریز لري ، د بوش اداری دغه ډاکټر ته ددې لپاره د پناه غیږ پرانیستله چې په کیوبا کې د نړیوالې ترهګرۍ په تور سزا ونه ویني. د امریکا متحده ایالاتو د اوریلانډو بوش د بیرته ستنولو په تړاو د کیوبا بې شمیره غوښتنې له هر ډول دیپلوماتیکو نزاکتونو پرته

---

[8] Orwellian

[9] Dr. Orlando Bosch


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وغندلې او د دواړو هیوادونو تر منځ د لسیزو لسیزو شته تاوتریخوالي پر اور بېي نور تیل و شیندل.

**نړیواله جنائـي محکمه** : تر دغې لیکنې پورې ، د امریکا متحده ایالاتو، شمالي کوریا، اسرائـیلو، چین او لیبیا په نړیوالې جنائـي محکمې کې د غړیتوب له اخیستنې ډډه کړې ، دا هغه نړیواله قضائـي څانگه ده چې د نړیوال قضائـي هیئـت د پلټنې د تشې او یا د جنگي جنایاتو هغه ناسپړل شوې جنائـي دوسیې له سره را سپړي چې د نړۍ د اکثریتو زبرځواکونو له خوا تر سره شوې دي. له تأریخي ، سیاسي او ایدیالوژیکي اړخه که ورته وگورو د نړۍ د ډېریو پیاوړو زبر ځواکونو پر وړاندې د جنگي جنایاتو حکمونه او فتوی گانی ورکړل شوې دي. د دغه داستان د شرحې لویه برخه باید د ډېرې څرگندې ریا په اډانه کې و پلټل شي. د نړۍ تر ټولو پیاوړي زبر ځواکونه له قانونه سرغړونې ته یوازې او یوازې هغه مهال غوړ.ونه بوخ او سترگې رَډې کړې چې د نورو له پلوه شوې وي. د امریکا متحده ایالاتو د سړې جگړې په کلونو کې له شوروي اتحاد سره د ښکر په ښکر کیدلو پر مهال بې شمیره نازي جنگي جنایتکاران او د څارگرو څانگو کارپوهان په کار و گومارل. دغې نښرغاندې یا پدیدې د " سوبمن عدالت" تر نامه لاندې له حسن تعبیره ډکه اصطلاح را منځته کړه.

**په قانون کې د جنگي جنایاتو پر وړاند حکمونه** : د جنگي جنایاتو په حکمونو کې بې رحمه وینه بهونې ، د ولسي شمتنیو دړې وړې کول، د یوه ولس د یوې برخې له منځه وړل، له گڼه گونې ډکو مرکزونو باندې په لوی لاس برید، او د منع شوې وسلې کارول ټول هغه جنگي جنایات گڼل شوې چې پر وړاندې بې قضائـي هیئـت د جنگي جنایت حکم پلی کولای شي. د سپتامبر د یولسمې پیښې پر وړاندې د امریکا د متحده ایالاتو د وسلوالو ځواکونو غچ اخیستونکی ځواب بې تناسبه وو، خلکو ته ډله ییزه سزا ورکړل شوه دا په خپله د [ ژنوا او نورامبرگ] له شته اوسنیو قوانینو څخه چې د امریکا متحده ایالات بې په خپله یو له ژمنوالو لاسلیک کوونکو هیوادونو څخه دی او له نورو نړیوالو کنوانسیونونو او پروتوکولونو څخه هغه کلکه سرغړونه ده چې په ټولو قوانینو کې د " تیریگري جگړې " په نامه بلل شوې ده.

**بې شکله نښتې** : دا داسې یوه جگړه ده چې شکل اوبڼه نه لري. په یوځي جامو او نظم کې اجیر سرتیري را ټول کړل شوې دي، پر افغانستان باندې د زرگونو مایلو له واټن څخه لیرې د سي آی اې پرسونل او نور ملکي کارکوونکي د روباتیکو وسلو باران جوړوي ، د ټولنیزو اړیکو بنسټونه د امریکا د ولسمشرۍ د ټاکنو ټولنو ته د جگړې د توجیه سلا مشورې ورکوي ، له هر ډول قانوني شننو او پلټنو پرته پر هیوادونو بریدونه کیږ.ي ، هیوادونه نیول کیږ.ي ، د افغانستان په نیواک کې ۳۸ نا بللو هیوادونو برخه اخیستې ، د جگړې د قانون ټول حکمونه تر پښو لاندې شوي ، دا ټول د ننني ژوند د دلیل او تناسب د بیلگو یوه کواړۍ ده. دا په رښتیا چې یوه بې شکله نښته ده.

عدالت ته په درنښت یوې هسپانیوي محکمې د نوموړونو هیوادونو د یو شمیر څرگندو کسانو پر وړاندې د نیولو حکم ورکړی چې د جنگي جنایاتو په کړو وړو کې د ښکیوالي تور ورباندې لگول شوی دی ، دغې محکمې دا هم ویلي چې د نړیوالې جنائـي محکمې په غړو کې د بوش د ادارې لوړپوړي چارواکي د گډون حق نه لري. محکمې ټینگار کړی چې که دغه کسان غوره وبولي چې له خپلو هیوادونو څخه دباندې ووځي نو د سفر کولو پر مهال دې باید ونیول شي.

بروس. جي. ریچاردسن


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږ.لو مخکې په ځیر و لولـئ